DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزطي خپلواکه ورځپانه

سال پنجم شماره ۲۳۴
شماره مسلسل ۸۶۰
پنجشنبه ۲۱ میزان ۱۳۸۴ هش
۱۰ رمضان المبارک ۱۴۲۶ هـ ق
13 October, 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

وزیر خارجه امریکا ثبات در افغانستان را به نفع امریکا دانست

وزیر خارجه امریکا در یک کنفرانس خبری در کابل، دموکراسی، امنیت و ثبات افغانستان را به نفع امنیت ملی امریکا خواند.

کاندولیزا رایز وزیر خارجه ایالات متحده امریکا بتاریخ ۲۰ میزان، در کنفرانس خبری که در آن رئیس جمهور کشور حامد کرزی نیز اشتراک داشت، گفت که همکاری استراتیژیک بین این دو کشور ابتکار مردم افغانستان می باشد.

وی تعهد سپرد که افغانستان را باردیگر امریکا و دنیا تنها نمی گذارد و تازمانیکه برای امریکا افغانستان ضرورت دارد با آنها خواهد بود.

وی افزایش حملات انتحاری در کشور، را ضعف دشمن خواند و به عقیده وی چون انتخابات پارلمانی به موفقیت انجامید، دشمنان سراسیمه شده اند.

وزیر خارجه امریکا در جواب سوال آژانس خبری پژواک در مورد اینکه ائتلاف و آیساف می خواهند تحت یک قوماندهی در افغانستان کار کنند گفت که امریکا عضو نیروهای ناتو است و در پلان گذاری و مسؤولیت هایش دخیل بوده و ایالات امریکا نیروهای ائتلاف را رهبری خواهد کرد.

ص۴

باغداران شاکی اند

باغداران سیب و انگور مربوط تعدادی از ولایات کشور شاکی اند که به علت مسدود بودن راه ماهیپر و خرابی راه لتهبند، مقدار زیادی از میوه جات آنها به مارکیت پاکستان نرسیده است.

در ماه ثور سال جاری بعد از مسدود شدن راه ماهیپر جهت بازسازی، راه لتهبند برای رفت آمد بین کابل ـ جلال آباد تعیین گردید که موترها باید در آن یک روز از سوی کابل و روز دیگر از سوی جلال آباد رفت و آمد نمایند.

راه لتهبند، راهی است کم عرض که پستی و بلندی های زیادی داشته و بسیار پر خم و پیچ می باشد.

باغداران ولایت میدان وردگ تشویش دارند که به دلیل عدم موجودیت بازار محصولات، سیب آنها ممکن خوراک حیوانات شود.

ص۴

شش تن پولیس در ارزگان کشته شد

شش تن از افراد پولیس شب گذشته در ولسوالی چارچینو ولایت ارزگان، طی یک حمله مخالفین کشته شدند.

جان محمد خان محمدی، والی ارزگان به تاریخ ۲۰ میزان به آژانس خبری پژواک گفت که یک موتر پولیس بطرف ولسوالی در حرکت بود که طالبان، طی یک کمین بر آن موتر حمله نمودند.

وی گفت که بعد از این واقعه نیروهای اردوی ملی و پولیس ملی به منطقه رسیده و عملیات تصفیوی را آغاز نموده اند. اما تا کنون کسی را دستگیر نکرده اند.

این در حالیست که روز قبل از ان در ولایت هلمند، بشمول آمر امنیت این ولایت، ۱۸ تن پولیس از طرف طالبان کشته شده بودند.

سرمقاله

ولې دسیمه ییزو وسله والو مخه نشي نیول کیدای

که څه هم د درو لسیزو په اوږدو کې چې زمونږ هیواد او هیوادوال دجګړو په اور کې و سوځیدل له بهر څخه د راوړل شوو وسلو ځنې دهیواد په ټولو سیمو کې د وسلو ګډامونه جوړ شوی دی او همدغه خورې وسلې دی چې دسیمه ییزو قوماندانانو او سرګروپانو ترمنځ کله ناکله جګړه ییزې نښتې رامنځته کیږي او په هغوی کې له مشرانو پرته نور هیوادوال د مرګ کومې ته کشیږي، د DDR بهیر له خپلو ټولو پروګرامونو سره ځکه ناکامه بلل کیږي چې لااوس هم له سیمه ییزو قوماندانانو سره د وسلو ګډامونه په واک کې دی او په همدغو وسلو سره دخپل پوځی نفوذ د زیاتوالی او په خلکو کې د ویرې د اچولو په خاطر لااوس هم دیکتاتورانه حرکات سرته رسوي د مرکزی اداري په رامنځته کیدو سره تر اوسه پورې سره له دې چې تخریبی عناصر له دولت او خلکو سره ددښمنی په دریځ کې ښکاره ولاړ دی دسیمه ییزو قوماندانانو ترمنځ نښتو کې په لسونو هیوادوال وژل شوی دی او دولت دتش په نامه کمیسیونونو او هیاتونو په لیږلو سره ناکامه پاتې شوی دی.

مونږ په هرات، شبرغان، فاریاب او مزار کې تر نورو سیمو زیات دسیمه ییزو قوماندانانو ترمنځ دجګړه ییزو نښتو شاهد یو دغه راز دیوه وسله وال قوماندان چې تر اوسه یې خپله وسله DDR ته نه ده ورکړې او له خلکو څخه په زور د پاتک پولیس، ایران پولیس او عشر ذاخیستلو او په خلکو باندې په زور د اشر کولو اعتراضیه غږونه هم پورته شوې دی همدا اوس د فاریاب په شرین تګاب کې د دوو وسله والو قوماندانانو په نښته کې نه یوازې دا چې وسله وال وژل کیږي او تپیان کیږي بلکې په سیمو کې دامن او امنیت لمنه ټولوی او په حقیقت کې دمرکزی واکمنی څخه دسرغړونې او خپل سرنۍ یوه ښکاره بیلګه بلل کیږي.

۴ مخ

وقتی به هوش آمدم در شفاخانه بودم

«باصدای وحشتناک، آتش سبز مانند در گردم پیچید وبعداً وقتی به هوش آمدم که دربستر شفاخانه بودم.»

این گفته های جعفر جوان بیست وسه ساله است که، حوالی ساعت چهار صبح دیروز در وزیر اکبر خان کابل، به اثر راست شلیک شده زخم برداشته است.

ص۴

کندهارکې پنځه تنه ډاکټران ووژل شول

دکندهارولایت په ژړې ولسوالی کې دیوې روغتیایي موسسې پنځه تنه ډاکټران د نامعلومو کسانولخوا په یوه برید کې وژل شوي دي.

دکورنیو چارو وزارت ویاند یوسف ستانیزي دتلې په ۲۰مه، پژواک خبري آژانس ته وویل چې پېښه هغه مهال رامنځته شوه کله چې دافغان هیلت سروس (روغتیایي خدمتونو موسسې) ډاکټران د ژړې په ولسوالی کې دکډوالو کمپ ته روان وو چې پر لاره کې پرې برید وشو.

ده زیاته کړه چې په دغه برید کې ددې موسسې دوه تنه ډاکټران او درې نرسان وژل شوي دي او درې نور تپیان شوي دي.

په کندهار ولایت کې دیادې شوې موسسې مسوول عبدالقدیر دپېښې دتایید پر مهال پژواک خبري آژانس ته وویل چې کارکوونکي یې دکډوالو ددرملنې لپاره پنډغالي ته روان وو چې تر برید لاندې راغلل.

ده وویل چې په تپیانو کې یوه ښځه او دوه تنه سړي شامل دي او روغتون ته لېږل شوي دي.

۴مخ

ډاګټلاف هوایي بم باری لس طالبان وژلې دي

داروزګان والي وایي چې ددغه ولایت په چارچینو ولسوالی کې دتلې په ۲۰مه دائتلافي ځواکونو دهوایي بمباری لامله ۱۰ تنه طالب جنګیالي وژل شوي دي.

والي جان محمد خان محمدي دتلې په ۲۰مه، پژواک خبري آژانس ته وویل چې ائتلافي او دولتي ځواکونو په دغه سیمه کې وروسته له هغه عملیات پیل کړل چې طالبانو په یو برید کې شپږ تنه دولتي عسکر ووژل.

ده وویل چې تر ۴۰ تنو پورې طالب جنګیالي دغې ولسوالی ته دورانکاری لپاره راغلي وو چې لس تنه یې وژل شوي او د پاتې ۳۰ تنو د نیولو یا وژلو لپاره پلټنې او عملیات اوس هم دوام لري.

دتلې په ۱۸مه د ګاونډي ولایت زابل چارواکو ددغه ولایت په شینکی ولسوالی کې دیو لړ عملیاتو پر مهال ددریو تنو بهرنیو طالبانو دوژلو او د لسو تنو افغاني طالبانو دژوندي نیولو ادعا هم کړې وه.

انفجار در آستانه سفر رایس به کابل

در آستانه ورود کاندولیزا رایس، وزیر خارجه امریکا به کابل، به سوی هدف هایی در داخل پایتخت افغانستان راکت پرتاب شده است.

ص۴

ددرې کشمیریانو اعتصاب کوونکو حالت خراب دی

په کابل کې دسیاسی پناه غوښتونکو له هغو لسو کشمیریانو څخه ددریو تنو روغتیایی حالت اوس و دانده بښنې وړ دی کومو چې دوه ورځې وړاندې دنه خوړلو په اعتصاب لاس پورې کړی و. د کشمیر د پونچهـ ولسوالی د سیاستوالو دغې ډلګی، د تلې له ۱۸ مې، ۱۱بجو، څخه د نه خوړلو اعتصاب پیل کړی دی.

۴مخ

په شمال کې بیا د وسله والو ترمنځ نښتې

د افغانستان په شمال کې دفاریاب پولیس وایي ددوو سیالو ازبکو ډلو ترمنځ نښته رامنځته ته شوه دغه نښته ورځ دفاریاب ولایت دمرکز دمیمنې ښار په څلوینټ کیلو متری کې دشیرین تګاب په سیمه کې پیل شوې وه چې تر نیمې شپې پورې وغځیده په دغه نښته کې دتوغندیو او سپکو وسلو ډزې اوریدل شوې دی دفاریاب پولیس وایي دجګړې لامل دا وو چې د جنرال دوستم پلویانو په شرین تګاب کې دملي اسلامي جنبش نمایندګی پرانستله.

ص۴

بیان حقایق از جنگ باشوروی در افغانستان از زبان معاون استخبارات پاکستان

سید احمد شاه دولتی

دگروال یوسف معاون استخبارات پاکستان نوشته است: یک کورس دو هفته یی جهت آموزش وا ستعمال ا سلحه سنگین از قبیل راکت های دافع هوا ، ضد تانک ، توپ های ضد هوائی و هاوان۸۳ ملی متری را روی دست گرفتیم ، کورس های دیگر مشتمل برکورس آ موزشی فرش ما ین ها، کورس تخریبی جهت منفجر ساختن پلها ، پایه های برق ، پا یپ لین نفت وگاز وتخریب شاهراه ها بود ۰ دگروال یوسف میگوید:

کورس آ موزشی برای جنگ چریکی درشهرها بخاطر تخریبکاری درکابل وسا یر شهرها اختصاص داشت ۰ به مجرد رسیدن راکت های بلوپایپ از انگلستان - ستنگرضد هوائی از ایالات متحده امریکا ، اقدام به تدویر کورس های آ موزشی درمورداستفاده ازاین سلاح ها نمودیم ۰۰۰۰

باید گفت آ موزش نظامی برای کسانی که بحیث مزدوران تخریبکار درافغانستان باهدفمندی وپلان شده ازسوی پاکستان به حمایت امریکا، انگلستان وسایر متحدین آ نها تربیه ومسلح شده زیر نام جهادبه افغانستان اعزام شده اند این افرادجهادی یعنی مجاهدین نیزازترس اینکه اگرطبق دستور باداران شان دست بکار نشوند ممکن است. امتیازات شان

اعاشه واباطه فامیل آنها درکمپ های پاکستان قطع خواهدشد واز آ نچه بنام لوازم لوژیستیکی ومد د معاش میگیرند محروم خواهندگردید.

بجای آ نکه درمقابل نیروهای اشغالگرشوروی برای آ زادی وطن بجنگند به تخریب پایه های برق ، انفجار پایپ لین نفت وگاز، تخریب پلها، شاهراه ها و فرش ماین هاپرداخته اند که این عمل ضد ملی وضد انسانی را پاکستان به آ نهایاد داده است که هیچ رابطه به جهاد علیه شوروی ندارد صرفآ دارای جنبه هائی است که مقاصد مقامات پاکستان رابرآورده ساخته است که هدف آ ن بقول دگروال یوسف به آ تش کشیدن افغانستان وتخریب پایه های اقتصادی ، فرهنگی ونظامی این کشور بود ۰ امریکا وانگلستان نیزکه افراد متنوع الکرکتررا ازگوشه وکنارجهان علیه شوروی به حشر طلبیده بود پس ازعبوردادن ازکورس های آ موزش نظامی وبالا بردن سطح مهارت های فنی آ نهادرعرصه اعمال تروریستی وتخریبکاری درپاکستا ن توسط افسران وتیمهای کنترولرپاکستانی به مجاهدین افغانستان به اصطلاح سنتر بولت گردیده به افغانستان سوق شدند ۰ پس ازخروج قوای شوروی ازا فغانستان که داکترنجیب رئیس جمهور افغانستان بابسیج نیروهای نظامی وملکی به دفاع مستقلانه ادامه میدا د این سنتربولت هادرجنگ جلال آ باد وسایرجنگهائی که درگوشه وکنارکشورروییدا د بصورت فعال حضور داشتند وقتی در۲۸اپریل۱۹۹۲مجاهدین به قدرت رسید تندروان آ سیائی ، افریقائی ، حوزه خلیج وشرق میانه ، حوزه جنوب شرق آ سیاوپاکستان وحوزه کارا ئیب ، گروه گروه به مناطق خودرفته آ نچه درپاکستان آ موخته بودند بکاربستند نه تنها به حکومت های خویش پرابلم هائی را ایجاد نمودند بلکه امریکا ، انگلستان ، هسپانیاوسایرکشورهای اروپائی رانیز آ رام نگذاشتند ۰ کاملا روشن است که بعدازسال ۱۹۹۲ازیک طرف روسیه خط مشی خودرا تغیردادوازیک سیستم بسته ومنضبط به یک سیستم بازودموکراتیک قدم برداشت وازجانب دیگر افراد نا آ گاه از اصول کلی دموکراسی ، خواست هرچه دلش بخواهد بنام دموکراسی انجام بدهد ، آ غازدموکراسی درروسیه وکشورهای تحت الحمایه آ ن به انارشیزم روبرو گردید ، درتاجکستان ، ازبکستان ، قرغزستان ،چیچین ، کشمیر ، بعضی ایالات اندونیزیا، مالیزیا ۰ فلپین ، سودان ،سومالیا وهایتی جنگ های بادوام وکم دوام را براه انداختندواین جنگ ها دربسیاری ازمناطق ممکن است ازطرف اسلحه فروشان ویاازطرف سیاستمداران کهنه کاربروی اهداف معین وخاص دامن زده شده باشد

به عقیده من آ موزش نظامی دادن به بنیاد گرایان ، آ تشی درجنگل بودکه کبریت آ ن به پول امریکا ومتحدانش تهیه شده بدست نظامیان پاکستان مشتعل گردید که برای خاموش کردن آ ن به سطح جهانی فعالیت های کم ثمری هنوز جریان دارد پیروزی کامل برای خاموش نمودن این آ تش همه گیر غیرقابل پیش بینی است ۰درسالهای آغازین جهادعلیه شوروی دریک کنفرانس خبری یک ژورنالیست آ گاه ازبرژنسکی مشاورامنیتی ریاست جمهوری امریکاپرسیده بود

بسیج بنیادگرایان اسلامی زیر نام جهادعلیه شوروی وآ موزش نظامی دادن به آ نها درآ ینده به معضله خطرناکی علیه منافع غرب تبدیل نخواهدشد؟ برژینسکی گفته بود نزدماشکست اتحادشوروی مهم است که باکمک تندروان اسلامی این پروسه تسریع میگردد پس ازشکست شوروی مهار کردن تندروان افراطی کار ساده است مشکل آ فرین نیست ۰۰۰ برخلاف تصورات ذهنی آ ن زمان برژینسکی امروزتمام توجه امریکا ، بریتانیا، وتمام اروپا وروسیه ، آ سیای مرکزی بشمول افغانستان وپاکستان ، شرق میانه وعربستان ، برای مهار کردن فعالیت های این بنیادگرایان آ موزش دیده نظامی سرگردان اند ۰ دگروال یوسف درجای دیگر کتابش نوشته است.

ما درسال ۱۹۸۴ یک رشته حملات موفقیت آ میزرا علیه پایگاه هوائی بگرام براه انداختیم که درنتیجه بیست فروندطیاره بروی زمین درمحل پارک منهدم گردید ، این یکی ازکارهای عمده نتیجه کورس های آ موزشی درعمل بود ۰ عظیمترین موفقیت دیگرما درسال ۱۹۸۴ این بود که تعدادهشت پایه برق رادرمسیر سروبی کابل دریک شب انفجار دادیم ، شهرکابل دچار تاریکی محض گردید، صحنه های این عملیات ذریعه چند تن ژور نالیستان امریکائی فلم برداری شده تحت عنوان عملیات خاموش وسکوت درصفحات تلویزیون نشان داده شد دگروال یوسف نگفته است که این ژورنالیستان امریکائی چه نام داشت و آ یا درباره تخریب پایه های برق کدام نظر خاص برضداین عمل خرابکارانه ضدحقوق بشری وضدحقوق مدنی داشت یاخیر ؟ باید گفت اگر تخریب بیست فروندطیاره درمحل پارک اهداف نظامی تصورشود تخریب پایه های برق وشبکه برق رسانی به شهر یان کابل ازجمله عمل خلاف میثاق های بین المللی است - جرم و جنایت آ شکار علیه مردمان افغانستان بشمارمیرود که به قومانده وآموزش نظامی آی ۰اس ۰آی پاکستان به مخالفین شوروی درافغانستان صورت گرفته است ، معلوم نیست که گزارشگران سازمان های حقوق بشرونهادهای مدنی دراین موارد واکنش نشان دادند یانه ؟ دربرابرعاملین وفرماندهان این عمل جنایتکارانه کدام اقدام مقتضی بازدارنده نمودندیاخیر؟ ؟ دگروال یوسف معاون آی ۰اس ۰آی پاکستان نوشته است :

برای ازبین بردن پایپ لین گازشمال افغانستان برمه های بزرگی را دراختیار مجاهدین قراردادیم تا ذریعه آ ن زمین را سوراخ وبه پایپ لین دسترس حاصل کنند ومنفجره را درآ ن تعبیه نمایند وآ نرا منفجر کنند ، درسال ۱۹۸۵ یک سلسله حملات راهدایت دادم که بموجب آ ن پایپ لین گازدرچندین محل منهدم گردید وفعالیت های فابریکات صنعتی غیر فعال شد، حملات راکتی برمراکزتفحصات گازطبیعی صورت دادیم که دریک مورد دوچاه آ ن طعمه حریق گردید ، آ تش آ ن شدید وبرای چندین روزشعله وربود که استحصال گازازآ ن برای همیشه خاتمه یافت ۰۰۰۰

کنوانسیون های ژنیؤومقررات بین المللی حمله برشبکات برق رسانی ، آ برسانی ، تخریب پایپ لین نفت وگاز ، فابریکات تولیدی کارآ مدعامه وتاسیسات غیرنظامی رادرجمله جرایم جنگی محسوب کرده است

بناءً میتوان گفت دگروال یوسف بااین نوشته برای مهرتائیدگذاشتن به محکومیت خویش گویااسناد محکومیت خودرا باخط جلی امضانموده است ۰ دگروال یوسف نگاشته است

ادامه دارد

ولې د مظاهرو لپاره هیوادوال مجبوریږي

په نړۍ کې ډول ډول سیاسی رژیمونه تیر شوی او موجود دی خو په ټولو سیاسو رژیمونو کې ډیر بد او رټل شوی د زور او دیکتاتوری رژیم دی چې یوازی واکمن چارواکی د خپلی واکمنی د دوام په خاطر د زور او د یکتاتوری له ټولو ډولونو کار اخلی پداسی رژیمونو کې په ازادی او بیان باندی پندیز لګیږی خو د داسی دیکتاتورانه رژیمونو په وړاندی په ټولنو کې د دموکراسی درلودونکو رژیمونو په شته والی کې خپله خلك په خپله اراده او واك سره د خپلو استازو پواسطه دولت اداره کوي خلکو ته ازادی ورکړل کیږي او خلك د خپلو ستونزو د لرې کولو په خاطر کولی شی خپل انفرادی او ډله ییز غږ پورته کړی او مسوول چارواکی یی د حل په برخه کې لازم اقدام تر سره کوي.

زمونږ په هیواد کې هم چې د اوږدی مودی په جګړه ییزو شرایطو کې قانونیت له منځه تللی وو او واکمنو کړیو د خلکو ازادی سلب کړی وه اوس په نسبی توګه د ازادی څښتنان دی . که پرون مو د خپلو حقوقو د اخیستلو لپاره غږ نه شو کولای خو هغه واکمن او په زور رامنځته رژیمونه هم د خپل کړو او اعمالو په کولو سره لکه څنګه ژر منځته راغلی وو له منځه لاړل.

زمونږ په هیواد کې چې اوس مو د بیا رغاونی لپاره حرکت پیل کړی دی د ازادی او دموکراسی شته والی څخه په استفاده کولای شو چې خپل اعتراضی غږ په ډله ییزه توګه د مظاهری په توګه وړاندی کړو دا کار د نړۍ په ټولو هغو هیوادونو کې چې ازادی او دموکراسی وی دود لری خو مظاهری او اعتصابونه د یو لړ قوانینو په چوکاټ کې سرته رسیږي او مسوول چارواکی د هغو د غږونو په اوریدو د حل لاری چاری لټوی زمونږ په هیواد کې هم اجازه ورکړل شوی ده چې اولس د خپلو حقوقو د لاسته راوړلو لپاره د مظاهرو له اصولو سره سم مظاهری کولای شی خو داچې زمونږ په هیواد کې اوږدی جګړی تیری شوی دی د مظاهرو د کولو په باره کې د هیواد والو پوهه هم لا بشپړه شوی نه ده پدی هکله هیوادوالو او د دولت اړوندو ادارو او مسوولینو ته ګوته نیول کیږي او تر هغه چې دا دواړه نیمګړتیاوی له منځه لاړی نشی مونږ د اصولیت او د کارونو د سم سرته رسولو خوا ته حرکت نشو کولای. زمونږ هیواد وال په مظاهرو کې له اصولو څخه پښه اړوی د شیشو په ویشتلو او اوږدی مودی لپاره د لارو په بندولو لاس پوری کوی د تخریب او ورانکاری په خاطر لازمه ده چې یوازی خپل انتقادی غږونه په معقول حد کې وړاندی کړی او ټوله ورځ د خپل غږ په اوریدلو د لارو او سرکونو په بندولو د هیواد والو د ازار او اذیت سبب نشی او مسوولینو ته هم نه ښایی چې د قانونیت خوا ته په نه پاملرنه سره په هیواد کې د مظاهرو لپاره زمینه برابره کړی او که چیری کله حقوق تر پښو لاندی او د اعتراض غږ یی پورته شی او یا د مظاهرو په کولو سره غوښتنی وشی باید چې مسوول چارواکی یی سمدلاسه د حل په لټه شی او دمظاهرو کوونکو له استازو سره په موافقه د ستونزو د حل په لوری ګامونه واخیستل شی که چیری د چا په حقوقو پښی کینښودل شی ولی به د مظاهرو لپاره زمینه برابریږی. خو دریغه چې زمونږ په هیواد کې که یوی خوا د مظاهرو لپاره هیوادوال مجبوریږی خو له بلی خوا یی د مسوولینو له خوا د حل په برخه کې دومره پروا نه ښاتل کیږی او له اجراآتو پرته همیشنی مظاهری څرګندونه نشی دوا کولای.

متصدی: سباوون

د بیا رغاونی په لور

په سوداګریزو چارو کې ریفورم

په سکاندناوی هیوادونو کې یوازې ۸ فیصده اقتصاد په غیر را جستر شوي سوداګري (غیر رسمی سکتور) پورې اړه لري. ددې خبرې دلیل دا دی چې دهغوی مقررات ساده او دسوداګرۍ لـه عامه خدمتونو سره سم مالیات ورکوي. د بیلګې په توګه: ددنمارک هیواد دنړۍ ډیر ښه بنسټیز جوړښت لري. همدا رنګه ، ناروی او سویدن دبشری پرمختګ د شاخصونو په اړوند په ترتیب سره ډیر لوړ مقام ترلاسه کړی دی.

په سکاندناوی هیوادونو کې او په ۳۰ ډیرو ښو هیوادونو کې د سوداګرۍ د آسانه کولو او دساتنې دخدمتونو دبرابرولو ترمنځ کوم ریفورمونه نه تاکل کیږي، خو هغوی کولای شي چې دواړه وتاکي.

دسوداګرۍ داجراتو پروژه دسوداګرۍ د ۳۵۰۰ تنو کار پوهانو، ماهرینو، مشاورینو، قانون پوهانو، محاسبانو دولتی چارواکو او اکادمیسیانو په فعالیت جوړه شوې ده، چې هغوی ټوله میتود یکې مرسته او ځیرنې لاړې چارې برابروي. میتودولوژیکی اطلاعات او دونده اخیستونکو نمونه په اطلاعاتو کې ثبت دي.

دریفورمونو د اجراتو په اړوند د اروپا ټول هیوادنه خورا فعال وو. په تیر کال کې په ۱۲ هیوادونو کې ډیر ښه اصلاحات رامنځ ته شوې چې هغه هیوادونه په لاندې ډول دي. سربیا و مانتینګرو، جورجیا، ویتنام ، سلواکیا، جرمنی، مصر، فنلنډ ، رومانیا، لاتویا، پاکستان، روندا او هالنډ.

په ۲۰۰۶ ام کال کې دسوداګرۍ اجراات دتیر کال دراپور کار د اوو شاخصونو په ترڅ کې نوی کوی چې نوموړی شاخصونه په لاندې ډول دی: دسوداګرۍ پیل، دکارکوونکو استخدام اوهڅونه، دقرار دادونو په عمل کې پلي کول، د ملکیتونو راجستر، دکریډټ لاس ته راوړل، دپانګه اچوونکو ساتنه او د سوداګرۍ پای. دسوداګرۍ اجراتو په ۱۵۵ هیوادونو کې خپلې ځیرنې پراخې کړې او درې نور نوي شاخصونه یې ورزیات کړي دی. لکه : سوداګریزو جواز نامو سره معامله، په ټولو سرحدونو کې سوداګرۍ، او دمالیاتو ورکړه.

سربیره پر دغه نوي شاخصونو داخبره جوته کړه چې زیات اصلاحات په عمل کې پلي شوی دی په ځانګړې توګه په بیوزلو هیوادونو کې. راپور څرګندی چې دنړۍ بیوزله هیوادونه ډیر زیات مالیات دسوداګرۍ په اوږو باندې اچوي. دغه زیات مالیات ددې سبب ګرځي چې دسوداګرۍ شرکتونه خپل اقتصاد پټ وساتي او لوړ عایدات ښکاره نکړي. همدارنګه تحلیل ښیي چې دسوداګرۍ په اداري لګښتونو کې اصلاحات راوستل د وارداتو او صادراتو له مخې څخه خنډونه لري کوي. دعمومی عقیدې پرخلاف ، ګمرکی پانې او نورې سرې فیتې (چې دسافت بنسټیز جوړښت په نامه یادیږي) دصادراتو او وارداتو دخنډ سبب ګرځي. له ټولو مې برخې څخه کم خنډونه دستونزو (دهارد بنسټیز جوړښت) لکه نامساعد سړکونه یا بندرونو له املې منځ ته راځي. په مخ پرودې هیوادونو کې دسوداګرۍ اداري پیټې دتولید کوونکو پر اوږو باندې اضافي لګښتونه اچوي.

کلنی چاپ او خپور شوی راپور پالیسي جوړونکو ته دا خواك او توانمندی ورکوي چې هغوی وکړای شي د نورو هیوادونو په پرتله او دنړیوالو اجراتو تیمونو او دریفورم دلومړیتوب په پام کې نیولو سره ډیر لوی اجراات اندازه کړي.

اوس ددریم کال په اوږدو کې نوموړی راپور په ټوله نړۍ کې په سوداګریز ریفورم باندې خپله اغیزه اچولې ده.

ښاغلی کارالی مکلش، د نوموړی راپور مسوول مدیر وویل: دسودګرۍ د اجراتو معیار د ۲۰ نه په زیاتو هیوادونو کې له ریفورمونو څخه ملاتړ کړی دی او له تیر کال نه را په دې خوا ۹ هیوادونو غوښتنلیك ورکړي، تر څو هیوادونه یې دسوداګرۍ د اجراتو په تحلیل کې شامل کړای شي.

دسوداګریزو اجراتو داندکس په شرایطو کې ، دنړۍ ۳۰ هیوادونه د ډیر ښه اقتصاد خاوندان دی لکه: نیوزیلاندو سنګاپور، امریکا، کانادا، ناروی، استرلیا، هانکانګ/ چین ، دنمارك، برطانیه، جاپان، ایرلنډ، ایسلند، فنلنډ، سویدن، لتوانیا، استونیا، سویتزرلنډ، بلجیم، جرمنی ، تایلنډ، مالیزیا، پیرتو ریکو، موریتوس، هالنډ، چلی، لاتویا، کوریا، جنوبی افریقا، اسراییل او هسپانیه.

ټول هغه هیوادونه چې دډیر ښه اقتصاد خاوندان دی خپله سوداګری سمبالوي خو هغوی سوداګری په کم لګښت طریقې سره ترسره کوي. سکاندناوی هیوادونه چې ټول یې په نوموړی ډیر شو هیوادونو کې شامل دی ډیر کم خپله سوداګرۍ سمبالوی خو په بدل کې ډیر ساده مقررات لري چې دهغو په نتیجه کې یې سوداګرۍ ګټه وره او په هغو چارو باندې زور اچوی چې دمالکیت حقوق خوندی او تولنیزې چارې برابرې کړي. هندوستان دځو اړخیزه موافقتنامو د تطبیق عملیې ته په نویو قضایی کړنلارو سره سم ښه والی ورکړی، چې په هغه کې ډیرې کمې محکمې ګډون لري. په ځینو حالاتو کې دتطبیق موده له لسو کالو څخه تر شپږو میاشتو پورې راکمه شوې ده دکریډټ د مصرف کوونکو لپاره نوی دفتر جوړ شو چې په نتیجه کې یې د پور ورکوونکو لپاره اسانتیاوې برابرې شوې، تر څو هغوی وکړای شي د کریډټ دارزښت په اړوند ارزونه تر سره کړي. دښو شرایطو په ترڅ کې چې کوم عایدات زیاتیږي دملکیتونو دراجستر مالیه دلس فیصدو څخه پنځو فیصدو ته کمه شوه.

دنیپال عامه کریډټ راجستر دیوه شرکت په توګه یو ځلې بیا جوړ شو، چې دهغه ۹۰ فیصده دمالیې موسساتو له خوا واخیستل شوه. د جزاء نوی سیستم به دکریډټ د راجستر دمعلوماتو کیفیت ته ښه والی ورکړي.

دسریلانکا دکریډټ راجستر دنویو منابعو معلوماتو شامل کړل چې په نتیجه کې یې دپور ورکوونکو قدرت او توانمندی دکریډټ دخطر په وړاندې ښه والی وموند.

دجنوبی اسیا دهیوادونو درجه بندی دا خبره جوته کړه چې هلته ځینې دپام وړ خنډونه شته ، لکه د وارداتو او صادراتو په چارو کې اداري خنډونه ، خنډونه او دملکیتونو دراجستر لګښتونه، د هندوستان په هیواد کې ، یو متشبث داجناسو د واردولو لپاره باید ۱۵ سندونه وسپاري او هم ۲۷ لاسلیکونه ترلاسه کړي. دبنګله دیش په هیواد کې د ملکیت دراجستر لپاره ۳۶۳ ورځې پکار دی چې لګښت یې دملکیت دمجموعی یا ټول ارزښت تر ۱۱ فیصدو پورې رسیږي. د لومړی ځل لپاره د افغانستان د سوداګرۍ چې داوږدو جګړو له املې زیانمنه شوې ، مطالعه شوه په داسې حال کې چې د سوداګر په برخه کې ډیر ښه والی راغلی، خو ددې لپاره چې اجناس کابل ته وارد شي، ۵۷ لاسلیکونه باید تر لاسه شي، چې ددې کار لپاره یې ۹۷ ورځې پکار دی. په داسې حال کې چې دمکلفیت د راجستر لپاره ۲۵۲ ورځې پکار دی او د راجستر لکښت دملکیت دټول ارزښت تر لسو فیصدو پورې رسیږي هغه مهم خنډ چې په جنوبی اسیا کې شته هغه دغیر رسمی اقتصاد کموالی دی ځکه چې شرکتونه پرته له مالیې او دیوه منظم جوړښت څخه بهر کار کوي چې په دې توګه حکومت ته په میلیونو ډالرو زیان رسیږي.

د نړیوال بانك د ګروپ رئیس پاول ولفوتیز داسې وویل: ددندو رامنځ ته کول داسې ښه والی رامنځته کوی چې په ډیرو حالاتو کې هیوادوالو ستونزې چې ولیکل شوی خو ددوی په ځیر په زرګونو هیوادوال لرو چې له ګاونډیو هیوادونو څخه راغلل خو دلته په وچ ډاګ پراته دي نه کور لري نه کار شته ځمکې شاړې او اوبه نه لري ډیر یې بیرته پرته لیدلی لاره بیرته لاړل له ایران څخه راغلي جمیله چې د کونډتون او غریبی څخه شکایت لري وایي زه پخوا دلته معلمه وم ایران ته لاړو هلته ښه و برق و یخچال مو درلود او د ژوندانه ټول کارونه مو اسان و و.

خو دلته یو ابرومندانه کور نشته خو اوس چې د سهار ډوډۍ ولرو نو بیا خو شپې ته حیران ناست یو ما ویلی چې اولادونه به مې په افغانستان کې نور تعلیم وکړي خو کله چې میړه مړ شو اوس نشم کولای چې په خپله زامن ښوونځي ووایي او یا خو لږ تر لږه با سواده شي مونږ چې کله له ایران څخه راغلو نو تګاو ته لاړو پخوا ښې ډي او به وی خو چې سړ کال راغلو ګورو چې ځمکې اوبه نه لري حیران شو د خپلو بچیانو سره کابل ته راغلم په یوه ښوونځي کې معلمه یم خو د خپلو بچیان د تعلیم اندیښنه را سره هر وخت موجود وي او حیران یو چې څنګه د یوه کور خاوندان شو.

د یوه خپل کور د درلودو په هیله

د جګړو په بهیر کې زمونږ ډیر هیوادوال مجبور شول چې خپله سیمه پریږدي نورو سیمو په تیره بیا پاکستان او ایران او نورو هیوادونو ته لاړ شي خو پدې څلورو کلونو کې د ګاونډیو هیوادونو له خوا په افغان مهاجرو باندې فشارونه زیات شوي دي چې باید خپل هیواد ته راشي په اکثره سیمو کې د مهاجرو کورونه وران پاتې دي ځمکې یې شاړې شوي دي که چا کرلې هم وي د ځمکو حاصلات ورته پوره نه رسیږي.

ډیری کورنۍ چې له پاکستان او ایران څخه هیواد ته راغلی وي یې لیدل چې دلته کار او روزګار نشته په کار باندې یوازې خپلې کورنۍ ته ډوډۍ نه شي پیدا کولای نو ابادی به څنګه وکړای شي هك پك دي.

محمد اکبر چې د بغلان د زاړه بنار د سیمې دي او د پاکستان د کچنه کړۍ له کیمپ څخه هیواد ته نوي له خپلې کورنۍ سره راستون شوی دی وایي:

یره وروره مونږ پدې فکر کې وو چې څلور کاله تیر شول اوس به هیواد کې او ګلزار وي کار او روزګار به وي وطن ته به لاړ شو خو چې دلته راغلو په کابل کې مې لوړې لویې ودانۍ او پلازې ولیدي خو چې بغلان ته لاړم ډیر خفه شوم سایبه کور مې وران دی د جوړولو زور راسره نشته څه وکړم زامنو مې راته وویل: پلاره! بې پردي کیږي مونږ ته اجازه راکړه بیرته به لاړ شو او یا به ایران ته لاړ شو، نو زامن مې ولیږل ایران ته.

دلته ژوند کول سخت دی نه کار نشته او نه... غلا خو نشو کولای.

د شمالي د پراخه ډنډ اوسیدونکي عبد النبی چې د طالبانو د جګړو په وخت کې د نورو زرګونو خلکو په ډله کې پاکستان ته په هجرت کولو مجبور شوی وی وایي: زمونږ شمالی د جګړې ډګر ګرزیدلی و طالبانو دا د علم او ابادی دښمنان بس سایبه په شمالي کې په زرګونو، او لکونو ونې او تاکونه له بیخه ووهل او کورونه وران شول دا یوه ګټه وه چې انګور به د هیواد نورو سیمو ته تلل او پاکستان ته به وړل کیدل ټول یې ووهل کورونه ورانیدل مونږ پاکستان ته لاړو اوس راغلي یو بس سایبه وچ ډاګ په تیرو کلونو کې د سړیو او رونډا په هیوادنو کې دبیلابیلو ریفورمونو شته والی دپرمختګ یوه لاره چاره څرګندوی چې مونږ کولای شو دهغوی له تجربو څخه زده کړه ترلاسه کړو.

انفجار در آستانه سفر...

گزارش شده است که حدود ساعت ۴ بامداد به‌وقت محلی در روز چهارشنبه، ۱۲ اکتبر، اقامتگاه سفیر کانادا در کابل هدف پرتاب راکت قرار گرفت که در مقابل ساختمان منفجر شد و دو تن از نگهبانان ساختمان را به طور سطحی زخمی کرد و تلفات و خسارات جدی برجای نگذاشت. همچنین، راکت دیگری به یک ساختمان مورد استفاده اداره امنیت ملی افغانستان اصابت کرد و خساراتی به بار آورد. یوسف آستانیزی، سخنگوی وزارت داخله (کشور)، در گفتگو با بی بی سی، احتمال ارتباط این حمله را سفر وزیر خارجه آمریکا به کابل را رد کرد. او گفت: "شورشیان در گذشته همواره تلاش کرده اند وضعیت امنیتی را در آستانه برنامه های مهمی که در کشور اجرا می شود، مختل کنند." آقای استانیزی در مورد عاملان این حمله نام "دشمنان" را بکار برد و گفت که تحقیقات در مورد تثبیت هویت افرادی که در پس این حمله بوده اند ادامه دارد. آنگونه که تحقیقات ابتدایی نشان می دهد، این راکت ها از محلاتی موسوم به شینکی و کهری در نواحی شرقی شهر کابل، شلیک شده است که بر اساس اظهارات شاهدان عینی، خسارات شدیدی را بار نیاورده است. وزیر خارجه آمریکا در ادامه سفر خود به چند کشور واقع در آسیای مرکزی و غربی روز چهارشنبه وارد کابل شد.

بازدید خانم رایس از کابل تنها چند ساعت به طول خواهد انجامید و وی با مقامات ارشد دولت از جمله حامد کرزی، رییس جمهوری، دیدار و گفتگو کرد. قبل از عزیمت به سوی کابل، خانم رایس در مورد افغانستان گفته بود که این کشور به پیشرفت هایی دست یافته اما هنوز هم اقدامات بیشتری برای بازسازی اقتصادی و مبارزه با کشت خشخاش و تولید تریاک ضرورت دارد.

وی همچنین پیش بینی کرد که با تکمیل شمارش آرا در انتخابات پارلمانی افغانستان معلوم خواهد شد که تعدادی از نامزدهای زن به مجلس راه یافته اند. قرار است کاندولیزا رایس اواخر روز چهارشنبه برای دیداری چند ساعته از افغانستان به پاکستان سفر کند و گفته است در این بازدید از مناطق زلزله زده پاکستان دیدن خواهد کرد. وی در ادامه سفر منطقه ای خود از پاکستان عازم تاجیکستان و قزاقستان خواهد شد. سفر منطقه ای وزیر خارجه آمریکا در حالی انجام می شود که روابط این کشور و ازبکستان، که زمانی از حامیان ایالات متحده در آسیای میانه محسوب می شد، به سردی گراییده است.

در اقدامی که واکنش نسبت به انتقاد ایالات متحده از نحوه برخورد دولت ازبکستان با تظاهرات ماه مه جاری در آن کشور تلقی شده، ازبکستان از آمریکا خواسته است پایگاه هوایی خود در این کشور را تعطیل کند. در حالیکه به نظر می رسد که دولت ازبکستان ترجیح می دهد به جای غرب، به روابط نزدیکتر با روسیه و چین روی آورد، ایالات متحده در صدد حفظ و تحکیم موقعیت خود در سایر کشورهای منطقه آسیای میانه است. روسیه و چین خواستار برچیدن پایگاه های نظامی آمریکایی از ازبکستان و قرقیزستان شده اند.

هدف از سفر خانم رایس به آسیای میانه تشریح موضع ایالات متحده در حمایت از استقرار دموکراسی در کشورهای منطقه به عنوان عاملی برای جلوگیری از گسترش نفوذ اسلامگرایان تندرو و همچنین جلب حمایت این کشورها از مبارزه علیه تروریسم عنوان شده است.

قبل از سفر به کابل، وزیر خارجه آمریکا در بیشکک، پایتخت قرقیزستان، با قورمان بیک باقی اف، رییس جمهوری، وزیر خارجه و مقامات ارشد این کشور دیدار کرد و با تاکید بر روابط دوستانه دو کشور، ادامه فعالیت پایگاه نظامی ایالات متحده در قرقیزستان را مورد تایید قرار داد.

در حالیکه دولت قرقیزستان می کوشد ضمن توسعه روابط با آمریکا، روابط سنتی خود را روسیه را نیز حفظ کند، خانم رایس از آنچه که گسترش و تحکیم دموکراسی در قرقیزستان می خواند حمایت کرد و اعلام داشت که پایگاه نیروی هوایی آمریکا در قرقیزستان در خط مقدم جبهه نبرد علیه تروریسم قرار دارد.

از این پایگاه، و همچنین پایگاه واقع در ازبکستان که قرار است برچیده شود، در عملیات تدارکاتی برای تامین نیازهای نیروهای آمریکایی در افغانستان استفاده می شده است.

باغداران شاکی...

محمد عظیم یک تن از باغداران سیب در آن ولایت به آژانس خبری پژواک گفت: «تا به حال یک موتر سیب از راه تورخم به جلال آباد و پاکستان نرفته در حالی که سال پیش در فصل سیب که از ماه میزان شروع می شد روزانه پنجاه الی صد موتر سیب از این راه صادر می شد.» وی می گوید که تجار به علت خرابی و طولانی بودن راه لته بند، تا کنون اصلاً برای خرید سیب به آنها مراجعه ننموده اند این در حالی است که سالهای قبل آنها سیب را از راه ماهیپر که کوتاه بود انتقال می دادند. موصوف افزود که به علت طولانی بودن راه لته بند و باقی ماندن بار میوه جات در راه، سیب ها به زودی خراب خواهند شد و این دلیل باعث گردیده است که تجار علاقمندی برای خرید میوه جات آنها نگیرند. عبدالمعید هدف یکی دیگر از باغداران این ولایت گفت: «که هر څومره زمونږ مڼي د بهرۍ شي، ښایسته شي، خوږې شي، څه به یې کړو چې هغه ته د پلورنې ور بازار نه لرو.»

قرار معلومات باغداران، سال گذشته در ماه میزان آنها یک خروار سیب (۸۰ سیر) را به قیمت هشت هزار افغانی می فروختند اما اکنون یک خروار آنرا به قیمت پنج هزار افغانی به فروش می رسانند که این قیمت بیش از سی فیصد کاهش را نشان می دهد.

همچنین میوه انگور نیز در شهر کابل و بعضی ولایات دیگر ارزان شده است و کمتر به فروش می رسد.

احمد شاه باغدار و تاجر انگور باشنده منطقه کرتاز، مرکز ولایت کاپیسا به آژانس خبری پژواک گفت: «۱۹ میزان» به بازار کابل انگور روان کردم که قیمت آن نسبت به روزهای دیگر ارزان تر شده بود چرا که راه لته بند مسدود و خرید انگور کم شده است.»

وی افزود که قبلاً آنها ۷ کیلوگرم انگور کشمشی را تا ۲۵۰ افغانی به فروش می رساندند و حال به ۱۳۰ افغانی به فروش می رسد و یک خروار انگور سال گذشته ۷۲۰۰ افغانی و امسال به ۳۵۰۰ افغانی به فروش می رسد. محمد حنیف تاجر انگور در کابل گفت که ۷ کیلو گرام انگور فعلاً در بازار کابل تا ۱۵۰ افغانی و در بازار پروان تا ۱۲۰ افغانی به فروش می رسد. قرار معلومات داکتر ولی محمد رسولی معین وزارت فواید عامه، روزانه هفت هزار موتر می تواند یک طرفه از راه لته بند عبور نماید اما اکنون نسبت عدم مراعات کردن نظم و نوبت تنها پنج صد موتر می توانند، روزانه از این سرک استفاده نمایند.

وی بی نظمی تجار در رفت و آمد از راه لته بند را، دلیل عمدهٔ این مشکلات می داند.

ولې دسیمه ییزو وسله والو مخه نشي...

دخلکو داندیښنو دلیرې کولو دسراسری امنیت دراوستلو او دسیمه ییزو قوماندانانو د زور دختمولو لپاره ولې وګړنیز دولت چې خپل او نړیوال زور و رسره دی د خیر په غونډې ناست او دیوه سیالبین بنه یې غوره کړې ده که چیرې حالت همداسې دوام وکړي نه یوازې دا چې سیمه ییز امن به خراب شي بلکې دوینو په توییدو سره به د دواړو جګړه ییزو خواوو دښمنې زیاته ددولت خواکمنی. باور اعتماد به هم له زیاتو پوښتنو سره مخ شي. ددې وسلې والو مخه هغه وخت نیول کیدای شي چې وسلې تري ټولې او د سرغړونې په صورت کې د پوښتنې میز ته کش شي.

په شمال کې بیا...

دغه سیمه د جنرال دوستم د سیال جنرال عبدالمالک پلارنی ټاټوبی دی خو دواړه سیالی ډلې پر یو بل داسې تورونه لګوی چې ګوا کې لومړنی ډزې یې پیل کړی دی په نښته کې لږ تر لږه یولس کسان ټپیان شوی دی بله خوا دواړه سیالی ډلې په خپلو خبرو کې داسې څرګندوی چې ګوا کې خلکو یې د مخالف په وړاندې پاڅون کړی دی د ملی اسلامی جنبش یو تن ویاند محمد همایون فیزی وویل چې په فاریاب کې خلک د جنرال ملک او د هغه د وروڼو له واکمنې نه ښې خاطری نلري نو پرهمدې بنسټ اجازه نه ورکوی چې په دغه ولایت کې شتون بیا مومي دا سیمه ییزی او قومي دښمنی دی او په سیمه کې ځینې داسې ستونزې شته چې خلک خپله ځینې کسانو او پخوانیو قوماندانانو سره وران دی دا خلک نه غواړي چې دغه کسان دی وسله وال شتون ولري فکر کوم چې دا نښته یو سازمان شوی چاره نده خو جنرال عبدالمالک چې دا محال په مزار شریف کې دی وایي چې د جنرال دوستم کسان ې نه پریږدی چې فاریاب ته تګ راتګ وکړی نومورې تور لګوی چې سیالو پلویانو یې په شرین تګاب کې پر دوی برید کړی وی او مونږ ښاغلی دوستم ته وړاندیز کوو چې د خلکو او سیاست د سیالی په ډګر کې دی له مونږ سره مخامخ شی نه له خپل توپ او توپک سره ښاغلی ملک وایي چې د جنرال دوستم ګڼ پلویان اوس هم په وسلو سمبال دی د نومورې په وینا مرکزی دولت تر دی محال پدی ندی توانیدلی چې دغه کسان بې وسلی کړی په هر حال د فاریاب د ولایتی بیا رغاونې ډله، ملی اردو او تور امنیتی خواکونه تر جګړې وروسته د امنیت نیولو په موخه د فاریاب شرین تګاب سیمې ته رسیدلی دی خو جنرال ملک په دی اند دی چې دغه راز امنیت تل پاتی ندی او شونی ده چې ډیر ژر مات شی نومورې وایی که ددغه حالت د خیرلو لپاره یو صلاحیت لرونکی د دولتي پلاوی سیمې ته لاړ نشی کیدای شی چې تر دی سختی نښتی منځ ته راشی.

وزیر خارجه امریکا ثبات...

وی افزود: «امریکا منحیث یک عضو ناتو می تواند که همکاری نماید واین فورمول یک روند کامیاب بوده و ما می خواهیم که کمکهای خود را ادامه بدهیم» رایز، درمورد مبارزه علیه مواد مخدر و فساد اداری در کشور گفت: «ما تصمیم داریم که در افغانستان یک دولت پاک و صادق بوجود بیاید.»

موصوف، افزود که در این مورد کرزی نیز گفته که تلاش جریان دارد و این گفته های او قابل اعتماد میباشد.

وی همچنان علاوه نمود: «برای ریشه کن ساختن مواد مخدر امریکا کمک های خودرا دوچند میسازد.»

وی تائید نمود که دولت افغانستان مصروف مبارزه با فساد اداری است و این مبارزه به این معنا است که دیگر قاچاق مواد مخدر، رشوت خوری، تروریزم و فساد اداری وجود نخواهد داشت.

رایز افزود: «ما باید سیستمی را ایجاد کنیم که حقوق مردم محفوظ باشد.»

کرزی نیز در این کنفرانس مبارزه با مواد مخدر و فساد اداری را یک موضوع تعین کننده به مردم افغانستان خواند.

وی افزود: «اگر ما با مواد مخدر مبارزه کنیم یک دولت با پای استاده خواهیم داشت واگر مبارزه نکنیم در دولت ناکام خواهیم بود.»

کرزی در قسمت مبارزه علیه مواد مخدر گفت که توانایی دولت افغانستان نسبت به سه سال گذشته بهتر شده است اما کامل نیست.

وی افزود: «تا وقتیکه توانایی ما تکمیل شود ما به کمک امریکا ودیگر ممالک در مبارزه علیه مواد مخدر ضرورت داریم.»

کاندولیزا رایز وزیر خارجه ایالات متحده امریکا در این سفر با پنج تن از زنان تجارت پیشه و خانم فتانه گیلانی (رئیس اتحادیه زنان افغانستان) درمورد مسایل سیاسی و اجتماعی کشور صحبت نمود.

وی دراین ملاقات، حمایت کشور خودرا از زنان افغانستان نیز اعلان نمود.

د دري کشمیریانو اعتصاب...

له نارو غو کسانو څخه یو تن تبریز شمسي چې د کښیناستو نه و او ډډه یې لګولې وه، پژواک خبري اژانس ته وویل چې تر هغه به خواړه نه خوري، چې یا یې ژوند له لاسه نه وي ورکړی او یا یې غوښتنې نه وي منل شوي.

هغه په کشمیر کې د تېرې خونړۍ زلزلې ته په اشاره سره زیاته کړه: «په زلزله کې مې کور وران شوی او یوه وړه لور مې په کې تپې شوې ده.»

د هغه په وینا دی له وېرې د خپلې کورنۍ مرستې ته نه شي ورتلای. دغه کسان د (UNHCR) له دفتر څخه د خوراک، روغتیا، امنیت او د سرپناه د اساتیاوو (چې په روانه میاشت کې پرې د دغه دفتر له خوا بند شوي) او همداشان د سیاسي پناه غوښتنه کوونکو دوی په کابل کې دملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمیشنرۍ د دفتر مخې ته له غټو سپینو کاغذونو سره چې (مورږ خپل حقونه غواړو) شعارونه یې پرې لیکلي، دېره اچولې ده.

دغه سیاستوال ادعا کوي چې د ګاونډیو ملکونو، هند او پاکستان له وېرې د خپل وطن د ازادۍ لپاره مبارزه بشپړې کولای او ژوند یې په خطر کې دی په کابل کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د دفتر ویاند نادر فرهاد په وینا که څه هم له یادو شویو لسو کسانو څخه د اووه تنو دوسیې یې له لومړیو مرکو وروسته رد شوې، خو وزوستې پربکړه یې لا نه ده اعلان شوې او لا تر اوسه یې څېړنه روانه ده.

د هغه د معلوماتو له مخې، په هغوی یې یواځې مالي مرستې بندې کړي دي او اوس هم له هغوی سره روغتیایي، امنیتي او د سرپناه مرستې کوي. نومورې زیاته کړه: «مورږ دوی ته د سولې ییز لارښون او د نه خوښولو له اعتصاب نه د لاس اخیستو غوښتنه کړې، خو هغوی یې نه منې.»

کندهار کې پنځه تنه...

ده زیاته کړه چې دم ګړی نه شي ویلی چې دا کار به طالبانو کړی وي او که نورو وسله والو، خو اکثره د دغه شان پېښو مسؤولیت طالبان پر غاړه اخلي.

د کندهار د امنیت آمر سمونوال عبدالحکیم په دې هکله له خبرو ډډه وکړه.

په دې وروستیو کې دهېواد په سویلي ولایتونو کې د امنیتي پېښې زیاتې شوي دي، یواځې په نړۍ د تېرو لسو ورځو کې په کندهار کې شپږ ځله وژونکي بریدونه شوي چې د ګڼ شمېر هېوادوالو د مرګ ژوبلې لامل شوي دي.

وقتی به هوش...

وی که فعلا در شفاخانه ایمرجنسی کابل زیر تداوی قرار دارد، به آژانس خبری پژواک گفت که هنوز پرچه این راکت در بدن اش است.

موصوف افزود که در اثر این زخم خون زیادی را ضایع کرده و هنوز احساس ضعیفی میکند.

این راکت که تاهنوز عاملین آن شناسایی نه شده، به دیوار سفارت کانادا واقع سرک ۱۳ وزیر اکبر خان اصابت نموده است. عبدالله ۱۸ ساله که در صحنه حاضر بود وبه گفته اش جعفر را به شفاخانه منتقل نموده می گوید، که پرچه های راکت هر طرف پاش شد و محافظ سفارت کانادا (جعفر) را از پا در آورد.

به اساس معلومات وزارت داخله این راکت از استقامت شینه وکمری (جنوب شرق شهر) فیر شده و تحقیقات در مورد جریان دارد.

به گفته موصوف دروقت یادشده راکت دیگری نیز به تعمیر ریاست امنیت کابل اصابت نموده که تلفات جانی و خسارات مالی در قبال نداشت.

این راکت ها چند ساعت قبل از سفر وزیر خارجه امریکا به کابل، شلیک شده است.

ERADA Daily

اراده
زیر نظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکز نشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by: sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com
قیمت یک شماره ۳ افغانی